# SHTAMANAI

**هموطنان عزیز !**

قسمتی از عواید مالیاتی برای رشد و حمایت از سکتور زراعت و دهاقین کشور به مصرف میرسد. همواره تلاش نمودیم، تا با میکانیزه کردن زراعت، در کیفیت و فروش محصولات زراعتی تغییر مثبت ایجاد کرده و محصولات زراعتی خویش را برای مارکیت‌های بین المللی صادر و معرفی نمائیم.

سه شنبه | ۲۷ ربیع الثانی ۱٤٤٤ / ۱ قوس ۱٤۰۱ | ۲۲ نوامبر ۲۰۲۲ | سال اول | شماره ۳۲ | ٤ صفحه ۱


## سرمقاله

## د سیمي هیوادونه به له موږ سره کور او کلی وي

سوداګري او راکړه ورکړه د خلکو د اړتیاوو او ژوند د روان ساتلو لپاره امکانات او اړین توکي چمتو کوي. په دې برخه کې له ګاونډیو، د سیمي او نورو هیوادونو سره د ګمرکونو شتون او فعالیت د دغو ټولو چارو تضمین، تحقق او قانوني پړاوونه تطبیق او تبادله کوي او په ورته مهال کې د ټرلو اړخونو ترمنځ د ارتباطي پولو رول لري. اوس هیوادونه د دغو چارو د اسانولو او معیاري کولو لپاره له ټولو ممکنو امکاناتو، تجهیزاتو او اسانتیاوو کار اخلي. سوداګر او دولتونه یو بل ته لاس سره ورکوي او په اشتراکي ډول نوي او پر نړیوالو اصولو برابر ګامونه پورته کوي. اسلامي امارت دغه انډولونه او د غوره اړیکو تعامل تر بل هر وخت ښه درک کوي او د ټولو نړیوالو قوانینو په اصولو او رڼا کې ورته ژمن دئ. په همدې موخه او په ځانګړې توګه د هیواد او بهرنیو سوداګرو او پانګوالو ته په ګمرکونو کې د لازمو او اړینو اسانتیاوو رامنځته کولو او د سوداګرۍ پراختیا ته لومړیتوب ورکوي. په ګمرکونو کې سوداګرو او پانګوالو ته د لازمو او اړینو اسانتیاوو رامنځته کول، نه یوازي دا چې د هیواد په اقتصادي پیاوړتیا، د سوداګرو لېوالتیا او د یوه ځان بسیا افغانستان زېری دئ، بلکې په ډېر نږدې راتلونکې کې به افغانستان د ګاونډیو، سیمي او نړیوالو هیوادونو د سوداګرۍ، راکړې ورکړې او په ټوله کې د وصل نقطه وي، چې هم به له یادو هیوادونو سره کور او کلی یوو او هم د ذکر سوو هیوادونو په منځه کې ان شاالله په یوه نړیوال بازار بدل سو. دا یادونه مې ځکه وکړه، چې غواړم د اسلامي امارت له راتګ را وروسته د سوداګرۍ کچه، د محمولو تګ راتګ او د سیمي له هیوادونو سره راکړه ورکړه په مقایسوي بڼه روښانه کړو. د مالیې وزارت له لوري په ګمرکونو کې سوداګرو ته د اسانتیاوو په برابرولو، د کاري ساعتونو په زیاتېدلو، د بهرني ټرانزیټ زماني مودې په زیاتېدو او په هیواد کې د سراسري امنیت په پایله کې د افغانستان له خاوري څخه په بهرني ټرانزیټ کې د تېرو کلونو په پرتله د پام وړ زیاتوالی راغلی او دارنګه ورځ تر بلي د سوداګرۍ او بهرنیوغوره اړیکو په پراخېدو سره دغه ارقام مخ په زیاتېدو روان دي. د ۱۳۹۹ هـ ل کال په لومړیو ۷ میاشتو کي د افغانستان له خاروې څخه (۲۴۸۹) محمولې تېري سوي دي چي (۷۸۳۴۴) ټنه وزن یې لېږدولی. د ۱۴۰۰ هـ ل کال په لومړیو ۷ میاشتو کي د افغانستان له خاروي څخه (۷۳۱۷) محمولې تېري سوي چي (۲۲۹۰۱۶ ) ټنه وزن یې درلوده او د ۱۳۹۹ کال په پرتله ۱۹۴ سلنه زیاتوالی ښیي. د ۱۴۰۱ هـ ل کال په لومړیو ۷ میاشتو کي د افغانستان له خاوري څخه (۲۶۹۸۰) محمولې تېري سوي چي (۹۱۳۶۴۴) ټنه وزن یې درلوده او د پخوا په پرتله ۲۶۹ سلنه په محمولو کي زیاتوالی او ۲۹۹ سلنه په وزن کي زیاتوالی ښیي. دغه ټرانزیټي مالونه بېلابېلو ګاونډیو هیوادونو ته لیږدول سوي چي ستره برخه یې پاکستان، تاجکستان او ازبکستان هیوادونه دي. د دې ترڅنګ په تېرو څو اونیو کي له چین هیواد څخه هم سوداګریزه د رېل ګاډۍ محموله هیواد ته را ورسېده او د رېل ګاډۍ پټلۍ د پراخولو او وصلولو په برخه کي هم د سیمي له هیوادونو سره په چټکۍ کارونه روان دي. یوه بله بېلګه له هندوستان هیواد سره د هوایي دهلیز له لاري د نوي باب بیا پرانیستنه ده او په راتلونکي کي به لا وده او پراخوالی ومومي. له دې او نورو ورته ګامونو پورته کولو سره به موږ له ټولو هیوادونو سره نږدې پاته سو او د اقتصادي پرمختګ او ځان بسیایني دروازې به پرانیزو.

درنښت

اداره

# د مالیې وزیر ننګرهار ولایت ته سفر وکړ



د مالیې وزیر الحاج ملا هدایت الله بدري د خپلو ولایتي سفرونو په لړ کي د ننګرهار ولایت له ګمرک څخه لیدنه وکړه. د مالیې وزیر د دغه ولایت د ګمرک رئیس، کارکوونکو او نورو اړوندو مسئولینو سره د لیدني سربېره د نوی ګمرک له ساحې او کارونو څخه هم لیدنه وکړه او له مسولینو سره یې تر ګنو خبرو اترو وروسته د دوی ستونزي واورېدې او د حل په موخه یې اړیني سپارښتني ورته وکړې. د یادوني ده، چي ښاغلي بدري د دغه سفر په لړ کي د یاد ولایت د کرني او مالداری او اطلاعاتو او فرهنګ ریاستونو له رئیسانو سره د لیدني تر څنګ د زیتونو د یوه لوی فارم په پرانیسته کي هم ګډون وکړ.

## د ۳۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د یوې ستري پروژې پیل



د مکروریانو د ساتني او پالني دولتي شرکت د یونیسف په مالي مرسته د ۳۵ میلیونه افغانیو په ارزښت یوه ستره پروژه پرانیستله. د یادي پروژې د پرانېستي په مراسمو کي د دولتي شرکتونو عمومي رئیس مولوي عبدالحمید اخندزاده، ورسره مل پلاوي، د مکروریانو د زونونو رئیسانو او ګڼ شمېر رسنیو ګډون کړی وو. د مکروریانو د ساتني او پالني دولتي شرکت رئیس پوهنمل غلام عمر عبدالله په دې غونډه کي وویل، چي د مکروریانو د ساتني او پالني دولتي شرکت د تېرو کلونو په پرتله په ټولو برخو کي د پام وړ پرمختګ کړی دئ، چي ژوندۍ بېلګه ئې د مکروریانو په سیمو کي د اوبو رسولو د سیستم د پیاوړتیا لومړنۍ پروژه ده، چي په نږدې راتلونکي کې به نورې پروژې هم ګټې اخیستني ته وسپارل سي. د دولتي شرکتونو عمومي رئیس وویل: د مکروریانو د ساتني او پالني دولتي شرکت په خپلو کارونو کي تر ډېره ښه روان دئ او دا د خوښۍ ځای دی. نوموړي د اوبو د ارزښت په اړه دا هم وویل، چي اوبه د ژوند سرچینه ده او په مصرف کي یې باید له سپما څخه کار واخلو. د یادوني وړ ده چي د غونډې په پای کي د یونیسف موسسې (د اوبو رسوني برخي)، د کوار خیریه موسسې، د ګاتم سولر خصوصي شرکت استازي، د او آر ډي کمپنۍ او د یاد ارګان انجینرانو او کارکوونکو ته د دولتي شرکتونو د عمومي رئیس لخوا ستاینلیکونه هم ورکړل سول.

## سیلوی هرات دوباره به فعالیت آغاز کرد





سیلوی هرات پس از پانزده سال توقف دوباره به فعالیت آغاز کرد. در این مراسم افتتاح نصر الله منصور، رئیس عمومی سیلوی مرکزی و شماری از مسئولان سیلوی هرات و برخی ادارات دولتی اشتراك داشتند. مسئولان سیلوی مرکزی می گویند که سیلوی هرات پس از سیلوی مرکز و سیلوی بلخ، سومین سیلویی است که پس از توقف ۱۵ ساله دوباره به فعالیت آغاز می کند. با آغاز فعالیت این سیلو عواید ملی افزایش یافته و قرار است که ۵۰۰۰ نیروی کار در این سیلو استخدام شوند. همچنان قرار است سیلوی نامبرده، نان مورد نیاز تمام اداره‌های نظامی و برخی از اداره‌های ملکی را تأمین کند. گفتنی است که سیلوی هرات، در زمان سردار محمدداوود خان در این ولایت آغاز به کار کرده بود که طی ۱۵ سال اخیر به دلیل بی‌توجهی مسئولان حکومت پیشین از فعالیت باز مانده بود. قرار است سیلوی نامبرده پس از این در حوزه‌ی غرب کشور، در بخش‌های ذخیره‌ی گندم، نان‌پزی و آسیاب گندم، فعالیت کند مسئولان ریاست عمومی شرکت های دولتی در نظر دارند تا در روزهای آینده سائر سیلوی های کشور را نیز فعال نمایند.




ترکیه د افغان دولتي شرکتونو همکارۍ ته چمتو ده

م ۲





افغانستان د سیمي د هیوادونو د وصل په نقطه بدلیږي

م ۲





تفتیش ویژه

م ۳



مالیاتي محاسبینو ته د فعالیت د جواز ورکړې ازموینه واخیستل سوه

م ۲





بهبود کاری وزارت مالیه

م ٤

شتمني
SHTAMANAI



# افغانستان د سيمي د هيوادونو د وصل په نقطه بدليږي

د ماليې وزارت له لوري په گمرکونو کې سوداگرو ته د اسانتياوو په برابرولو، د کاري ساعتونو په زياتېدلو، د بهرني ترانزيټ زماني موديې په زياتېدو او په هيواد کې د سراسري امنيت په پايله کې د افغانستان د خاوري څخه په بهرني ترانزيټ کې د تېرو کلونو په پرتله د پام وړ زياتوالی راغلی.

۱. په ۱۳۹۹ هـ ل کال په لومړيو ۷ مياشتو کې د افغانستان له خاورې څخه (۲۴۸۹) محمولې تيري سوي دي چي (۷۸۳۴۴) ټنه وزن ئې درلود.

۲. په ۱۴۰۰ هـ ل کال په لومړيو ۷ مياشتو کي د افغانستان خاروي څخه (۷۳۱۷) محمولې تيري سوي چي (۲۲۹۰۱٦ ) ټنه وزن ئې درلوده، چي د ۱۳۹۹ کال په پرتله ۱۹۴ سلنه زياتوالی ښيي.

۳. په ۱۴۰۱ هـ ل کال په لومړيو ۷ مياشتو کي د افغانستان خاوري څخه (۲٦۹۸۰) محمولې تيري سوي چي (۹۱۳٦۴۴) ټنه وزن ئې درلود او د پخوا پر پرتله ۲٦۹ سلنه په محمولو کي زياتوالی او ۲۹۹ سلنه په وزن کي زياتوالی ښيي.

د يادوني وړ ده چي پورته ذکر سوي ټرانزيټي اموال بېلابيلو هيوادونو ته ليږدول سوي چي ستره برخه يې پاکستان، تاجکستان او ازبکستان هيوادونه دي.




## ماليااتي محاسبينو ته د فعاليت د جواز ورکړي ازموينه واخيستل سوه

مالياتي محاسبينو ته د فعاليت د جواز ورکړي ازموينه نن د ماليې وزارت د عوايدو لوی رياست لخوا د ماليې وزارت د گمرکونو په ملي اکاډمۍ کي واخيستل سوه. په دې پروگرام کي د عوايدو لوی رئيس معراج محمد «معراج» د ازموينې گډونوالو ته د ښه راغلاست ترځنګ وويل: د ماليې وزارت د عوايدو لوی رياست وياړي چي د ازادو او رڼو سياليو له لاري د بيت المال د بنسټ او مالياتی مسايلو د ساتني په موخه لوستي او پوه محاسبين جذبوي او هغوی ته د فعاليت د جواز ورکړي زمينه برابروي. ورپسې د عوايدو د لوی رياست د حقوقي او



پاليسي خدمتونو رئيس ندا محمد صديقي د دغې پروسې تخنيکي مسايل بيان کړل او زياته يې کړه: د عوايدو لوی رياست د شفافيت په رڼا کي د مالياتي محاسبينو د ملاتړ او پياوړتيا غوښتونکی دئ، د هيواد د مالياتو په ډگر کي ستاسو شتون د غير رسمي اقتصاد لمن راټولوي. تاسي به د مالياتي محاسبينو په توگه د ځانگړي اهليت، حقوقي مسؤليت او د رسمي مهر درلودونکي وئ.

د يادوني وړده، چي د ازموينې د بهير د څارني په برخه کي د عوايدو لوی رياست د مالياتو د تنفيذ او اطاعت پذيرۍ رئيس مولوي دوست محمد «حقاني» او د دې رياست نورو کارکوونکو هم گډون کړی وو.

# سرمايه گذاری در اقتصاد افغانستان

خواجه فهيم عباسی

سرمايه گذاری ماشين محرك اقتصاد و ضامن زندگی با عزت مردم يک كشور است. و موقعيت جغرافيای طبيعی افغانستان كه آسيای جنوبی را با آسيای مركزی و اروپا وصل ميكند زمينه سود آوری سرمايه گذاری را بيشتر و بيشتر ميسازد.

چون قبلا شرايط سرمايه گذاری هم از لحاظ سياسی و هم از لحاظ موجوديت فساد گسترده مساعد نبوده، ولی فعلا به فضل و مرحمت خداوند آن مشكلات كاملا حل شده و دولت فعلی آماده هرنوع همكاری با سرمايه گذار می باشد ،و تامين امنيت مالی و جانی سرمايه گذار را مسوليت دينی و ملی خود ميداند. معقوله هم ثواب هم خرما به شرايط كنونی افغانستان كاملا صدق ميكند. يعنی مساعد نمودن شرايط كاری وظيفه هر سرمايه گذار افغان است، كسيكه وطن را مادر خود ميداند، وظيفه فرزند صالح اينست كه در شرايط دشوار و مشكلات يار و ياور مادر باشد و از لحاظ مادی من معتقدم كه، سرمايه گذاری در افغانستان نظر به پايين



بودن سطح مزد ، ماليه و تعرفه نظر به اكثر نقاط جهان سود بيشتر دارد،خصوصا در قسمت منابع دست نخورده وطن (معادن) ، زراعت ( زعفران ،هينگ، منسوجات و ميوه خشك) و صنعت (با موجوديت ذغال سنگ ارزان و نزديك) خصوصا در قسمت صنايع فلزی به زودی ميتوان بازارهای داخلی، آسيای جنوبی و حتی قسمت بازار های آسيای مركزی را تصرف كرد.

درشرايط فعلی دولت افغانستان شرايط سرمايه گذاری ، صادرات و واردات را ساده ساخته بنا بياييد تا پول بدست آمده از اين وطن را دوباره درين وطن سرمايه گذاری كنيم ،از يك طرف مسوليت وجدانی خود را در قبال اسلام و مردم خود ادا كرده و از طرف ديگر زندگی آبرومندانه را به هم ميهنان خود در داخل وطن مساعد ساخت ايم. تا هيچ مادری فراق فرزند نبی ند و هيح مردی فراق خانواده.

## ترکيه د افغان دولتي شرکتونو همکارۍ ته چمتو ده



د افغانستان اسلامي امارت يو لوړپوړی پلاوی، چي د اسلامي امارت وياند ذبيح الله مجاهد او د ماليې وزارت استازي يې هم ملتيا کوله؛ ترکيې ته د خپل رسمي سفر په لړ کي د ترکيې هيواد د ماليې له محترم وزير سره د ملي عوايدو، گمرکونو او د افغانستان ماليې وزارت اړوند د دولتي شرکتونو د ودي او نورو مهمو مالي چارو په تړاو مهمه او گټوره ليدنه کړې ده. په دغه کتنه کي د ترکيې د ماليې وزير د افغانستان د دولتي شرکتونو د ملاتړ، ودې او پرمختگ په برخه کي د همکارۍ پوره ليوالتيا ښودلې او ژمنه يې کړې، چي ډېر ژر به په دې اړه د افغانستان ماليې وزارت له محترمو مسؤلينو سره له نږدې خبري وکړي، چي څنگه کېدلای سي افغان دولتي شرکتونو ته د پرمختگ لازمي اسانتياوي برابري کړو.

## د درو زونونو د مستوفيت کارکوونکو ته په بېلابېلو برخو کي روزنه ورکړل سوه

د ماليې وزارت بشري شرچينو رياست د وړتيا لوړوني او روزني آمريت له لوري په درو زونونو کي د شاملو ولايتونو د مستوفيت (۱۴۰) تنو کارکوونکو ته د مالياتو د محاسبې بررسۍ او سکتاس په برخه کي روزنه ورکړل سوه. په دې پروگرام کي د شمال ختيځ زون چې کندوز، تخار، بدخشان او بغلان ولايتونه پکښې شامل دي ۴۰ تنه کارکوونکي، سويل لوېديځ زون چي د هرات، فراه، نيمروز، بادغيس او غور ولايتونو د مستوفيتونو ۵۰ تنه کارکوونکي او همدا رنگه د شمال زون د مستوفيتونو بلخ، جوزجان، سمنگان، فارياب او سرپل ولايتونه پکښي شامل دي ۵۰ تنه کارکووکي د مالياتو د محاسبې بررسۍ او سکتاس په برخه کي وروزل سول او په يادو برخو کي يې څو ورځنۍ زده کړي ترسره کړې. د يادوني وړده، چي د ماليې وزارت د بشري شرچينو رياست د وړتيا لوړوني او روزني آمريت د تېر يوه کال په موده کي په لسگونو نوي کارکوونکي په بېلابېلو برخو کي روزلي او دغه لړۍ لا روانه ده.

نویسنده: محمد احسان نکته دان
ریاست عمومی تفتیش داخلی وزارت مالیه

# تفتیش ویژه

## مقدمه

تفتیش ویژه یکی از شاخه های حسابداری است که محور اصلی در آن کشف تقلب و موارد غیر معمول است. همانطور که مستحضر هستید، تفتیش یک رشته نوین و نو ظهور است که علی رغم نداشتن قدامت تاریخی طولانی، در همه جای دنیا، به دلیل کار بردی بودن آن به شدت در حال گسترش بوده و در حال حاضر یکی از گزینه های بسیار مهم در سازمان ها و شرکت ها و موسسات مالی و دولتی به شمار می رود. با گذشت زمان حرفه تفتیش نیز مطابق با اوضاع و شرایط تغییر کرده با سبک زندگی حال بشر بیشتر انطباق پیدا می کند. بنابران به نسبت بسیار پیچیده و تخصصی بودن آن ممکن نیست هر شخص آنرا انجام دهد. تنها کسانی استحقاق انجام آنرا دارند که در مراکز آموزشی عالی به صورت حرفه ای و تخصصی این علم را فرا گرفته اند و یا از تجارب طولانی بهره مند اند. گرچه این نوع تفتیش و بررسی از لحاظ ماهیت با تفتیش پلانی که معمولا طی یک پلان منظم و منظور شده در معرض اجرا قرار میگیرد، کدام تفاوت ندارد، و تنها تفاوت آن با دیگر روش های تفتیش یک تفاوت تفکرانه است، ولی همواره به مداقه و مستند سازی دقیق تری نیاز است. این نوع تفتیش از خود ویژگیها و تعاریفی دارد که مفتشان باید پیرامون آن آگاهی داشته باشند. در این مقاله که دارید مطالعه میکنید، سعی شده است تا به طور فشرده برخی موضوعات مرتبط به این نوع تفتیش؛ از قبیل تعریف تفتیش ویژه، دامنه، هدف، گزارش تفتیش ویژه وغیره به صورت فشرده ارقام گردد که با مطالعه آن می توان معلومات کلی را کسب نمود.

## تعریف تفتیش ویژه

طوری که در مقدمه تذکر یافت تفتیش ویژه که بنام تفتیش ناگهانی یا تفتیش عند المطالبه نیز یاد می شود، عبارت از تفتیشی است که به منظور کاوش در ساحه ویژه فعالیت های یک نهاد در معرض اجرا قرار میگیرد. برخی تفتیش ویژه را این گونه تعریف نموده اند: تفتیش ویژه عبارت از اجرای روش های توافقی است. هدف از این اجرا گزارش یافته های عینی ناشی از اجرای روشهای مشخص با ماهیت تفتیش است که مورد توافق مفتش، واحد مورد رسیدگی و یا هر شخص ثالث ذیربطی قرار گرفته است.

البته حامیان این تعریف با در نظر داشت ماهیت تفتیش، همچو تعریف را ارایه نموده است که منظور شان در بخش سکتور های خصوصی می باشد، نه در بخش سکتور دولتی. اما میتوان گفت که این تعریف در بخش سکتور دولتی در برخی موارد نیز صدق می کند. زیرا برخی ادارات بنابر لزوم دیدشان می خواهند بخشی از امورشان از طرف اداره تفتیش و یا نهاد حسابرسی مورد بررسی قرار گیرد.




## اهداف تفتیش ویژه

اهداف عمده تفتیش ویژه قرار زیر است:

۱- یاری رسانیدن به آمر اعطا و یا مالك نهاد تحت بررسی با ابراز نظر مسلکی و حرفه ای بی طرفانه جهت بهبود بخشیدن فعالیتهای اداره یا سازمان.

۲- یاری رسانیدن به نهاد مورد بررسی در اتخاذ تصامیم برای نگهداری منافع وحقوق نهاد بر اساس گزارش تفتیش ویژه.

۳- بررسی معاملات که به اداره حایز اهمیت بوده و لازم است تا در ارتباط به درستی آن به اداره اطمینان داده شود.

٤- شناسایی ریسك های مالیاتی مرتبط به تجارت و کسب و کار بوده اداره را در آن راستا یاری می رساند.

۵- بررسی اینکه آیا کارمندان نهاد مورد بررسی به ضرر نهاد فعالیت نموده اند یا به منفعت نهاد.

خلاصه، هدف تفتیش ویژه این نیست که نظر اجمالی ای پیرامون معاملات را بدست آورد؛ بلکه باید محتویات و قانونیت همان معامله را رسیدگی و محقق نمود و افزون بر سایر موارد رسیدگی شود که معاملات در انطباق با قوانین و مقررات انجام یافته است یا خیر.

## دامنه تفتیش ویژه

دامنه تفتیش ویژه گسترده بوده هیچ ساحه ای وجود ندارد که زیر چتر تفتیش ویژه قرار نگیرد. تفتیش ویژه ممکن است در پیرامون موضوعات مرتبط به مدیریت و صورت مالی یك نهاد صورت گیرد. غالبا موضوع تفتیش ویژه زمانی مطرح می شود که دلایلی مبتنی بر اینکه دارایی نهاد بدون دلیل معقول به مصرف رسیده است و یا اداره تفتیش شونده از صلاحیت های وظیفوی خویش پا فراتر نهاده است و یا به نحوی فساد مالی ای صورت گرفته است . در واقع هر گاه نهاد، تفتیش پلانی را موفقانه سپری نموده باشد و چندان یافته های قابل ملاحظه به مشاهده نرسیده باشد، نیازی به تفتیش ویژه دیده نمی شود، مگر اینکه طوری دیگری ایجاب نماید که تفتیش ویژه انجام پذیرد. طوریکه قبلا تذکر یافت تفتیش ویژه را می توان خارج از تفتیش روتینی و یا پلانی انجام داد که موضوعات آن متفاوت است. برخی این موضوعات به صورت فشرده در زیر تذکر داده میشود:

۱- تفتیش مالیات: هدف و نیت پشت این نوع تفیش ارزیابی اظهار نامه های مالیاتی که افراد و سازمان های تجاری به عنوان جز و مسؤولیت های قانونی خویش ارایه می نمایند، می باشد. در همچو صورت تفتیش ویژه روی دست گرفته می شود تا شواهد کافی را در ارتباط با ارایه ارقام جمع آوری و صحت آنرا تثبیت نماید. عقلانیتی که پیشت سر این موضوع نهفته است این است که دیده شود ایا پرداخت های صورت گرفته معقول و عقلانی هست یا چطور؟

۲- تفتیش ساختمانی: در این نوع تفتیش هزینه های تخصیص یافته برای یك پروژه ساختمانی مورد بررسی قرار میگیرد. روی این منظور مبلغ واقعی ای که برای قرار دادی، تهیه کننده و سایر پرداخت ها که در این ارتباط صورت گرفته است، مورد بررسی قرار میگیرد. همچنان در این تفتیش بررسی می شود که آیا مواد قوانین و مقررات مربوط به قرار داد رعایت شده است یا خیر. در واقع به ارزش پول در تفتیش ساختمانی اولویت داده می شود.

۳- تفتیش رعایت: اساسا این نوع تفتیش زمانی که نیاز دیده شود تا پالیسی ها و طرز العمل ها و سایر اسناد تقنینی مورد بررسی قرار گیرد تا دیده شود که آیا استاندارد ها و مقررات داخلی رعایت شده است یا خیر.

٤- تفتیش سیستم معلوماتی: تفتیش سیستم معلوماتی یك امر مبرم است تا اطمینان حاصل شود که سیستم فاقد اشتباهات یا ناکار آمدی است. این نوع تفتیش هنگامی انجام می پذیرد که نیاز به بازنگری کنترل های همه جانبه موجود در انکشاف نرم افزار ها محسوس شود.

۵- تفتیش تقلب/ تحقیقی: این یك نوع تحقیق و باز جویی ویژه ای است تا بتوان تصمیم اتخاذ نمود که آیا کدام فعالیت تقلبی در ساحه ویژه وجود دارد یا خیر. تقلب ممکن است از راه های گوناگون اتفاق افتد؛ چون تغییردادن دفاتر حسابی، سوء استفاده از دارایی ها و سایر معلومات ساختگی وغیره. زمانی که احساس شود و یا اتهام وارد شود که همچو موارد به وقوع پیوسته است، این نوع تفتیش آغاز می گردد.

## چرا تفتیش ویژه؟

هدف اساسی عقب همچو تفتیش این است که ثابت شود آیا کارکرد نادرستی که گمان می رود در درون سازمان موجود است واقعیت دارد یا خیر. در بسیاری حالات، تفتیش ویژه زمانی آغاز می گردد که احتمالات تخطی ها از قوانین، مقررات مربوط به امور مالی یا سایر موضوعات متصور باشد. ولی نیازی دیده نمی شود تا همچو تفتیش را همیشه زمانی آغاز کنیم که اتهام تقلب، حیف و میل و سایر جرایم مالی علیه نهاد و یا کارمند وارد شده باشد؛ بلکه می توان همچون تفتیش را هر زمانی که ضرورت محسوس شود که از راه انجام تفتیش ویژه به مشکل رسیدگی صورت گیرد، انجام می یابد. به عبارت دیگر زمانی که شك و تردید هایی به میان آید که کارکرد های غیر معمولی در سازمان به وجود آمده است، این نوع تفتیش در معرض اجرا قرار می گیرد. غالبا زمانی که اداره مشکوك قرار گیرد که برخی قوانین و مقررات مربوط به امور مالی و یا مدیریت مالی در درون سازمان نادیده گرفته شده است، تفتیش ویژه یك نیاز مبرم به شمار می رود. به هر صورت، این به آن معنی نیست که همواره این نوع تفتیش به قضایای مرتبط به تقلب و سایر جرایم مالی محدود می باشد. بلکه می توان آنرا در صورت برخی تخطی های سازمانی و بنیادی که ممکن مشمول امور مربوط به وظایف، صلاحیتها، روشهای کنترل داخلی یا مسؤولیت های مدیریتی نهاد باشد، انجام داد.

ادامه دارد


# اعلانات داوطلبی

### به اعلان سپردن سه جایداد دولتی

ریاست عمومی املاك دولتی وزارت مالیه سه جایداد دولتی زیل را در مرکز بشکل آفر سربسته به اعلان داوطلبی می سپارد.

۱. موازی ٦۰۰۰ مترمربع زمین واقع داخل محوطه نساجی بگرامی ناحیه ١٦ ولایت کابل

۲. یکباب کانتین بمساحت ۲۰,٤٨ متر مربع واقع عقب وترین دهن دروازه تمیر ١٤ منزله سینما پامیر ناحیه اول شهر کابل

۳. موازی ١٩٩٤,٣٢ متر مربع زمین واقع کارته اریانا قوای مرکز ناحیه دوهم ولایت کابل

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان اشتراك در پروسه داوطلبی جایداد های فوق را دشته باشند، میتوانند سر از تاریخ ۲۱ عقرب الی مدت (۲۱) روز درخواستی های شان را به ریاست محترم عمومی املاك دولتی واقع تعمیر ١٤ منزله سینما پامیر، منزل چهارم تسلیم نموده، و بعد از ملاحظه اسناد شرطنامه را در بدل مبلغ (۳۰۰۰) افغانی پول بدون بازگشت اخذ نمایند

### اعلان پروژه تدارک ۱۰ عدد لود سیل های ترازو مورد ضرورت ریاست عمومی گمرکات

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان ازتمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تادر داوطلبی پروژهء(تدارك ۱۰ عدد لود سیل های ترازو مورد ضرورت ریاست عمومی گمرکات) دارای نمبر تشخیصیه ۰۸۷-G/۱٤۰۱/MOF که به روش داوطلبی باز داخلی صورت میگیرد اشتراك نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و دری ذریعهء فلش میموری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند.

جلسه قبل از آفرگشایی: تاریخ ۲۵/ عقرب /۱٤۰۱ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهرمیباشد.

تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۰۷/ قوس/۱٤۰۱ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.

تضمین آفر : به مبلغ ۲۵,۰۰۰ (بیست پنج هزار) افغانی میباشد.

آدرس :وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات،مشاوریت تدارکات منزل دوم.

شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۰٤٦

### اعلان داوطلبی پروژه تدارك لوازم تکنالوژی معینیت عواید و گمرکات

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان ازتمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تادر داوطلبی پروژهء(تدارك لوازم تکنالوژی معینیت عواید و گمرکات) دارای شماره داوطلبی ۰۵۸-G/۱٤۰۱/MOF که به روش باز داخلی صورت میگیرد اشتراك نموده و شرطنامه را به لسان دری و پشتو ذریعهء فلش میموری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه ، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند.

تاریخ مشخص آفرگشایی: ۰۸/ قوس/۱۴۰۱ ساعت ۲:۰۰ بعد از ظهر میباشد.

تضمین آفر : به مبلغ ۸۰۰,۰۰۰ (هشتصد هزار) افغانی صرف تضمین بانکی میباشد.

آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات،مشاوریت تدارکات منزل دوم.

شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲۴۵۸۴

آفرهای دیر رسیده و انترنتی پذیرفته نمیشود.

**د امتیاز خاوند:** د مالیې وزارت
**مسؤل مدیر:** احمد ولي حقمل
**مرستیال:** محمد نبي سلطاني
**کتنپلاوي:** ندا محمد صدیقي، عبدالرحمن سجاد، ابراهیم ګران او اجمل زاهد
**د خبر مدیر:** داود نظري
**خبریال:** سید مصطفی سروش

**د معلوماتو راټولوونکی:** محمد افضل الکوزی
**عکاس:** فضل احمد یوسفزی
**ډیزاینر:** محمد نسیم ظهوري
**ویبپاڼه:** mof.gov.a
**ټویټر:** afghanistanmof@
**یوټیوب:** afghanistan mof
**شمېره:** ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)

SHTAMANAI



په تېرو کلونو کې د کرنیزو اصلاح سوو تخمونو او کرنیزو خدمتونو د دولتي شرکت له خوا د کرنیزو غنمو د تخم تولید له ۵۰۱ متریک ټنو څخه ۳۰۳۰ متریک ټنو ته رسېدلی، چې ۳۰۰ سلنه زیاتوالی ښیي. اوسنیو شرایطو ته په کتو تمه ده چې په ۱۴۰۲ مالي کال کې به د غنمو




ریاست عمومی عواید وزارت مالیه در نتیجه رهبری مدبرانه، استخدام مسلکی، تقوا و بهبود کاری خویش، از آغاز سال مالی ۱۴۰۱ الی اکنون (۷) میلیارد افغانی عواید را از مستوفیت ها جمع آوری




د ۱۴۰۱ کال په لومړیو ۷ میاشتو کې د ۹۴.۷ میلیارده افغانیو په ارزښت صادرات سوي، چې ۹.۸ میلیارده افغانۍ عواید ورڅخه تر لاسه سوي دي، خو د ۱۳۹۹ کال په همدې موده کې ۳۵.۵ میلیارده افغانیو په ارزښت صادرات سوي وو، چې ورڅخه ۱۹۸ میلیون افغانۍ عواید تر لاسه سوي وو.




| صادرات | د ۱۳۹۹کال لومړیو ۷ میاشتو | د ۱۴۰۱کال لومړیو ۷ میاشتو | د پخوا په پرتله زیاتوالی |
|---|---|---|---|
| د صادراتو ارزښت | ۳۵,۵ میلیارده | ۹٤,۷ میلیارده | ۵۹,۲ میلیارده |
| تر لاسه سوي عواید | ۱۹۸ میلیون | ۹,۸ میلیارده | ۹.٦ میلیارده |




**ذبیح الله مجاهد**

افغانستان د ۱٤۰۱ کال په لومړیو ۷ میاشتو کې د یو میلیارد او ۸۵ میلیونه ډالرو په ارزښت توکي بهرنیو هېوادونو ته صادر کړي چې د هېواد د سوداګرۍ په تاریخ کې یو بې ساری ګام دئ.

**Inamullah Samangani**

وزارت صنعت و تجارت: ارزش صادرات افغانستان به کشورهای پاکستان، هند و تاجیکستان در ۷ ماه ۱۴۰۱، نزدیک به یک میلیارد دالر است.




**حامد افغان**

موجوده زمانه کې په سیاسي، ټولنیز او فردي لحاظونو؛ په اقتصادي پیاوړتیا کې زیات بریالیتوبونه او پرمختګونه نغښتي دي، داراز همدا پیاوړی اقتصاد د دین او دیني ارزښتونو په وده کې ان له نظامي خواکه هم زیات اغیز لرلای سي.


**Qari Yousaf Ahmadi**

د نوي اسلامي نظام په راتګ سره په هلمند کې ګڼې تولیدي فابریکې جوړې شوې، امید شته چې د خو کلونو په تیریدو سره به په ډیرو برخو کې په خان بسیا شو.

**شفع اعظم**

د نفتو، ګازو، منرالونو، ترانزیتي موقعیت او ځینو نورو مزایاوو له اړخه افغانستان د سیمې ستر بډای هېواد دئ. دا قوت درک سوی او په پانګې بدلولو لپاره ئې قوي اراده موجوده ده. له فقره ډیرو وطنوالو وطن پرې ایښی. په ګډه دې هدف ته کارکوو څو مهاجر افغانان او مرغان وطن ته را ستانه کړو.

# Minister of Finance Visited Nangarhar



The Minister of Finance Alhaj Mullah Hedayatullah Badri, paid a visit to Nangarhar Customs during his provincial trip. While meeting with the officials of the customs and other relevant authorities, he paid a visit to the Customs Works and the Customs New area. After discussing with officials and Listening to their problems, giving them necessary recommendations and urged them to creat facilities for your customers.

# Foreign Transit from Afghanistan has increased Tremendously Compared to previous years.




There has been a significant increase in foreign transit from Afghanistan due to the provision of facilities for traders at customs, the expansion of the working hours and duration of foreign transit by the Ministry of Finance, and the assurance of national security all over the country.

1. In the 1st seven months of Y-1399 (2489), cargo weighing (78334) tons passed through Afghanistan.
2. In the 1st seven months of Y-1400 (7317), cargo weighing (229,016) tons passed through Afghanistan, which indicates an increase of 194% compared to the Y-1399.
3. In the 1st seven months of the Y-1401 (26,980), cargo weighing (91 3644) tons have passed through Afghanistan, which indicates a 269% increase in cargo and a 299% increase in weight compared to the previous years.

It is worth mentioning that the goods mentioned above transited to different countries, most of which are Pakistan, Tajikistan, and Uzbekistan.

# State-Owned Improved agricultural seeds and Services Corporation's Activities and Accomplishments



The State-Owned Improved Seeds and Agricultural Services Corporation produced 3030 metric tons of improved seeds, indicating a double increase compared to the past years in which transferring and selling the total wheat grown in the Y-1400 and 1401 reached 150 million Afghanis. In addition, this state-owned corporation managed to produce and sell ten metric tons of vegetables and 13,032 metric tons of other plans as well as removing 13,267 acres of land from the usurpers in Kandahar, Ghazni, Paktia, Balkh, and Jawzjan, of which 2,692 acres have been used for cultivation. By having active brunches in 8 provinces (Baghlan, Nangarhar, Parwan, Kandahar, Helmand, Balkh, Jawzjan, and Herat), this state-owned corporation is striving to increase its revenue above the target of 248 million.